# د پښتو وړومبے طبعزاد ناول او ناول نګار

# The first Pashto novel and novelist

Dr Qadar wahid (samandar yousafzai)[*]

## Abstract:

Rashid Ahmad has written a book called( Da pukhto novel sal kala) Pashto Novel 100 Years, in which an attempt has been made to prove that Noor Mohammad Taraki was the first Pashto novelist instead of Rahat Zakheli,. In this article, Rashid Ahmad's claim has been refuted in the light of strong arguments and modern research principles and it has been proved that Rahat Zakheli is the first Pashto novelist.

په قيصه ايز ادب کښې ناول د يو نوي ،حيرانونکي او عجيبه څيز په توګه متعرف شوے دے چې د انګرېزۍ نه د اردو په لار پښتو ته را رسېدلے دے او دا څه نوي خبره نۀ ده هره ژبه د بلې ژبې نه مختلف علمونه ترجمه کوي او خپله علمي پنګه پرې درنوي۔ ناول يو افاقي صنف دے څکه نو هرې ژبې ته ارو مرو د بلې ژبې نه د ترجمې په ذريعه رسېدلے دے د ترجمې د اهميت نه انکار نشي کېدے څکه چې هم د دې په سوب ډېر علمونه او صنفونه وده مومي او که مونږ په پښتو کښې د ناول د ودې او ارتقاء ذکر کوؤ نو په وړومبي ځل د ناول راتګ پښتو ته هم د اردو نه د ترجمې په شکل کښې شوے دے کله چې په کال اتلس سوه يو کم اويا (۱۸۶۹) او په کال اتلس سوه اووه اويا کښې (۱۸۷۷) کښې ډپټي نذير احمد بلترتيب مراته العروس او توبته النسوح وليکل او چاپ کړل نو هم دغه دواړه ناولونه معراته العروس د نقش نګين په نامه په کال (۱۸۷۶ء) کښې ميا حسيب ګل کاکاخېل ترجمه کړو او بيا په کال (۱۹۵۷ء) کښې چاپ شو، توبته النصوح ميا محمد يوسف کاکا خېل په پښتو کښې ترجمه کړو او په (۱۹۰۵ء) کښې چاپ هم شو۔ دوئي دواړو په دومره ښه انداز دغه ترجمه کړي چې محترم تقويم الحق کاکا خېل صيب ئې په دغې وينا مجبوره کړو۔

> "دواړو ازاده ترجمه کړې ده دواړو کتابونه صرف پښتو کړي نۀ دي پښتانۀ کړي ئې هم دي او د دواړو په ژبه ډېر قابو دے او په الفاظو ئې ګرفت ډېر مظبوط دے"[1]

دغه ناولونه کۀ هر څو او هر څنګه په پښتو کښې ترجمه شوي او د اهميت او ارزښت نه ئې په هيڅ صورت د انکار نه کولو باوجود د پښتو د خپل طبعزاد ناول نۀ ځائے نبوے شي او نۀ دغه

---

[*] Lecturer Department of Pashto university of Malakand

مقام او حیثیت ورکول مناسب دي ځکه نو د دغه بحث څېړلو چې په دغه حواله پوهان څه وائي نبغ په نبغه خپلې موضوع له راځم چې د پښتو خپل طبعزاد ناول چا او کله لیکلے دے د طبعزاد ناول په حواله خو ډېر لیکوال په یوه خوله وو چې د پښتو وړومبے طبعزاد ناول کوم یو دے او دا ضرورت مې ځکه محسوس کړو چې ښاغلي رشید احمد صبب د " پښتو ناول سل کاله " په نوم یو کتور کتاب مې ولوستو شائد د پښتو وړومبي طبعزاد ناول په حواله دغه کتاب غلط فهمۍ پیدا کړي۔ محترم رشید احمد صیب څو حوالې ورکوي او د هغې په بنیاد د راحت زاخېلي په ځائے نور محمد ترکۍ او د " ماه روخي یا نتیجه عشق" په ځائے" بې تربېته زوے" وړومبے د پښتو طبعزاد ناول نګار او ناول ګڼي۔

زۀ د محترم رشید احمد صیب هغه حوالې کومې چې د راحت زاخیلي د وړومبي طبعزاد ناول نګار او " د ماه روخي یا نتیجه عشق" وړومبي ناول په حق کښې دي او بیا هغه حوالې یا د طوالت له وجې تلخیص وړاندې کوؤم د کومو په بنیاد چې هغه د راحت زاخېلي او " ماه روخي او نتیجه عشق" نه منلو سبب ګرځوي۔ هغه څه داسې دي۔

(۱) رشید احمد صبب لیکي چې په ۱۹۵۰ء کښې اجمل خټک صیب په خپله مقاله "پشتو ادب" کوم چې په اٹک کے اس پار، کښې ئې راحت زاخیلي وړومبے ناول نګار او نتیجه عشق وړومبے ناول ګڼلے خو چونکې اجمل صبب څه دلیل یا ثبوت پېش کړے نۀ دے ځکه نو دا ئې د خټک صیب غلطي ګڼلې ده۔[2]

زما په خیال که د اجمل خټک صبب حواله پوره او پخه نۀ ده خو دومره په اسانه هم نه شي رد کېدے چې غلطي به تري شوي وي چونکې اجمل صبب په خپل ادب یو ځغلنده نظر اچولے دے ځکه نو په دغه حواله دومره تحقیق ته ضرورت هم نۀ ؤ۔

(۲) "د راحت افسانې" په دیباچه کښې افضل رضا صیب په ۱۹۷۰ء کښې راحت صیب د پښتو وړومبے ناول نګار ګڼلے چې نتیجه عشق ئې د ۱۹۱۰ء نه تر ۱۹۲۰ء پورې ښودلے دے۔ ښاغلي افضل رضا صیب ته د دغې ناول تاریخ هم سم یادنۀ دے او بل څه تفصیلات ئې هم نه دي وړا نۀ دي کړي ځکه نو دغه حواله ئې هم پوره نۀ ده ګڼلې۔[3]

د افضل رضا صیب په حواله چې نۀ خو ئې پوخ دلیل راؤړے او نۀ ورته سم تاریخ یاد دے او دا ټوله غلط فهمي هم د دۀ نه پیدا شوي نو چونکې په دغه وخت کښې د افضل رضا صیب موضوع د هغه افسانې وې ځکه ئې هسې ضمني ذکر کړے که چرته د افضل رضا صیب موضوع د راحت ناول یا د پښتو ناول ؤ نو بیا دغه خبره سمه وه۔

(۳) بیا مخکښې لیکي:

" ډاکټرخالد خان خټک (۲۰۰۳ء) وائي چې د " ماه روخي " ناول د پښتو وروميے طبعزاد ناول دے چې راحت زاخیلي لیکلے دے او په کال ۱۹۱۰ء کښې شائع شوے دے خو څه پوخ دلیل نه راوړي"[4].

دریمه نقطه ښاغلي دا راوچته کړي چې خالد خان خټک هم څه پوخ دلیل نۀ راوړې،د خالد خان خټک صیب دا دلیل که مظبوط نۀ دے نو کمزورے هم نۀ دے.

"دا اولیت راحت زاخیلي ته نصیب شو، چې د پښتو وړومبے ناول ماه رخ ئې په ۱۹۱۲ء کښې ولیکلو او شائع ئې کړو. د اشاعت دا کال ما په هغه سرکاري فهرست کښې لیدلے دے چې د انګرېزي قانون تر لاندې به ټول چاپ شوي کتابونه حکومت سره رجسټرډ کېدل"[5]

زما په خیال خو د خالدخان خټک صېب دغه دلیل هم پوره دے هغه دومره تعلیم یافته شخصیت دے او د تحقیق په رموزو پوهه دے ځنګه به هغه د ځانه دا خبره لیکلي وي او د انګرېزانو په اوړو به ئې ټوپک ښودے وي. د اجمل خټک صیب ،خالد خان خټک صیب او افضل رضا صیب نه پس چې بیا کومې حوالې وړاندې کوي چې د راحت زاخیلي ناول " ماه رخي یا نتیجه " پرې مشکوک ثابتوي هغه څه په دې ډول دي
(۴) وړومبے دمحترم ډاکټر اعظم صېب رائے داسې را اخلي اعظم صیب چې په ۱۹۸۷ء کښې د خپلې مقالې " پښتو ادب او ناول" په حاشیه کښې لیکي چې ماته افضل رضا وئیلي چې دغه ناول چاپ شوے نۀ ؤ په دې خبره ئې زړۀ لړې ډېرې اوبۀ ښښي ځکه چې افضل رضا صېب ته اته کاله پس معلومه شوې ده ځکه نو هغه اعظم صیب ته وئېلي دي او دوېم دلیل ئې دا پېش کړے چې کوم کتاب چاپ نۀ وي نو د چاپ کتاب سره ئې مقابله نشي کېدے ځکه چې کوم وړاندې چاپ نۀ شي هغه وروسته ګڼلے کېږي[6]. بیا ئې د اعظم صېب د ۱۹۹۳ء د مقالې د حوالې نچوړ څه داسې راخیستي.
د پښتو وړومبي ناول په اړه له حتمي رائے نۀ ده قائمه شوې خو بیا هم په دغه حواله د راحت زاخیلي د ناول ذکر د اولیت په حواله شوے دے خو چاپ شوے نۀ دے لکه په ژوند ترې چرته ورک شوے وي

7-

بیا رشید صیب لیکي چې اته کاله پس افضل رضا صیب ته د خپلې غلطۍ احساس شوے دے ځکه خو ئي د ډاکټر اعظم صیب د لیک په ذریعه صفائي پېش کړه[8]

ښاغلي د اعظم صیب دغه مزکوره حوالې راخیستي دي چې یو خو ورته افضل رضا صیب وئیلي چې ناچاپ دے او بل ورک دے وړومبۍ خبره دا ده چې دغه ناول لکه څنګه چې خالد خان صیب ووئې چې په ۱۹۱۲ء کښې چاپ دے دغه شان مصطفي' کمال د دغه ناول چاپ کېدل د راحت زاخیلي د پېدائیش د سل کاله پوره کېدو نه پس په کابل پوهنتون کښې په کال ۱۹۸۴ء کښې چاپ یاد کړے دے[9]- که د ۱۹۷۸ء په مقاله کښې اعظم صیب وائي چې دا نۀ دے چاپ نو بائد چې په ۱۹۹۳ء کښې خو ورته دومره پته وې چې دانایاب او ورک نه دے بلکې په کابل کښې په ۱۹۸۴ء کښې چاپ دے پاتې شوه د افضل رضا صیب خبره چې اعظم صیب ته ئي وئیلي چې دا ناول چاپ نه دے نو بائد چې پخپله ئي په لیکلي شکل کښې دغه سمؤنه کړې وې که مونږ دغه د وائې خبره منو نو بیا بائد چې د خالد خان خټک صیب لیکلي خبره هم ومنو چې د انګریزانو په لسټ کښې په ۱۹۱۲ کښې چاپ دے-

که مونږ د یو ساعت د پاره دغه ومنو هم چې دا کتاب چاپ نۀ دے او د چاپ او نا چاپ په حواله که دغه فارموله مونږ په بایذید روښان او اخوند درویزه، ارزاني خویشکي او مرزاخان انصاري ولګوؤ نو بیا خو به وړومبے د نثر کتاب مخزن الاسلام د اخوندرویزه او وړومبے صاحب دیوان شاعر به مرزا خان انصاري وي ځکه چې دغه کتابونه وروسته چاپ دي- د دې نه علاوه د سوونو کالو پخواني کتابونه د جدید دور د کتابونو نه وروسته چاپ شوي نو د هغې سره به څه کوؤ-

په هر صورت څه داسې شواهد شته چې د راحت زاخیلي ناول چاپ شوے ؤ- په دغه حواله پوهنوال بریالے باجوړے لیکي:

"راحت زاخیلي ځکه د پښتو معاصر ادب د بنسټګر په نامه یادېږي چې دۀ د لومړي ځل لپاره په پښتو کښې (ناول د ماه رخې) یا نتیجه عشق ولیکلو دا ناول ئي په ۱۹۱۰ء یق ۱۹۱۲ء کال ولیکلو او چاپ ئي شو که څه هم دغه ناول نیمګړے دے او قیصه پکښې پائے ته نه ده رسېدلي خو په خپل وخت کښې دومره مشهور شو چې د افغانستان پاچا

امير حبيب الله خان ورت د کابل د راتګ بلنه ورکړه خو راحت د ځينو شخصي وجوهاتو له کبله کابل ته لاړ نۀ شو"[10]

د امير حبيب الله ذکر عبدالله جان عابد صيب په پښتو ژبان و ادب کي مختصر تاريخ کښې هم کړے چې راحت صيب ته ئي بلنه ورکړې وه[11] او امير حبيب الله خان د امير عبدالرحمان خان زوئے وو په ۳ جون ۱۸۷۲ء کښې پيدا شوے ؤ او په ۲۰ فروری ۱۹۱۹ء کښې مړ ؤ يعني قتل کړے شوے ؤ حکومت ئې د ۱۹۰۱ء نه تر ۱۹۱۹ء پوري ؤ ۔[12] ځکه نو دا مونږ د وئيلے شو چې د راحت زاخيلي ناول چاپ ؤ او د شهرت تر بامه رسېدلے ؤ ۔

(۵) بيا رشيداحمد صيب د محترم دوست محمد خان کامل صېب د مقالې " د خپل ادب جائزه" کومه چې د پېښور پوهنتون په " تخليق" نومې رساله کښې " د قديم نه تر ۱۹۵۲ ء پورې ذکر کړے په کوم کښې چې ئې د راحت صيب د افسانو ذکر خو ئي کړے ولې د هغه د " نتيجه عشق" او د هغه د ناول نګارى ئې هډو ذکر نۀ دے کړے ځکه دا سې ښکاري چې تر دغه وخته چاپ نۀ ؤ ، ګني هغه به ئي ذکر کړے ؤ[13] ۔

دا خبره سمه ده چې کامل صيب ئې د ناول ذکر نۀ دے کړے خو په دغه ټوله مقاله کښې کامل صيب صرف د صنفونو په فهرست کښې يو ځل د ناول نوم اخستے بيا ئې نۀ د ناول ذکر کړے نۀ ئې د ناول نګار ذکر کړے تر دغه وخته خو د نور محمد ترکی او صاحبزاده ادريس "پېغله" ناولونه چاپ وو د هغوئي ذکر ئې هم نۀ دے کړے زه نۀ پوهېږم چې د کامل صيب حواله په کوم بنياد راخستې شوې ده۔

بيا د ډاکټر راج ولي شاه خټک صېب دغه حواله را اخلي

" په دغه عصر کښې د راحت زاخيلي يو ناول " نتيجه عشق" نوميږي چې د ځينو محققينو دا خيال دے چې د چا بلې ژبې ترجمه ده ولې اکثر خلق ئې طبعزاد ګڼي "[14]۔

محترم رشيد احمد صيب د دغه شک نه هم استفاده کوي۔زما په خيال به د ډاکټر راج ولي شاه خټک صيب د نظره د راحت صيب تمهد نۀ وي تېر شوے ګني د مقالې ليکلو په وخت کښې که دا ناول په دويم ځل چاپ نۀ ؤ نو د هغه د مقالې چاپ کولو په وخت کښې خو چاپ ؤ، راحت صيب په خپل تمهد کښې ليکي۔

" نا ظرينو دا کتاب في الوقع صحيح قصه ده زما چشم ديد واقعه چې په ۱۹۰۶ء سنه ۱۹۰۸ء سنه ۱۹۰۹ء کښې تېره شوې ده"۔ [15]

که د راحت زاخيلي په دغه خبره هم څوک يقين نۀ کوي نو بيا بائد چې تر اوسه پورې خو چې په دې سل کاله کښې چا دغه ناول معلوم کړے وې د کوم نه چې ترجمه شوې ده۔

(۶) بيا د محترم تقويم الحق صيب د ۱۹۸۵ء د اردو الفاظ رانقل کوي چې زه ئې د رشيد صيب ترجمه را نقل کوؤم۔

" په پښتو کښې طبعزاد ناول د ودې نه اګاهو د مولوي نزير احمد دوه ناولونه " توبته النصوح" او " معراءتالعروس" په پښتو کښې ترجمه شوي وو ۔ دغه شان په افسانوي ادب کښې په خپل چاپېريال کښې د ليکلو افسانو نه اګاهو د ترجمه شوو افسانو نخښې نخښاني په لاس راځي صحافتي ادب د ډېره حده پورې د اردو ادب نه متاثره ؤ او د دې ښه او بد روايات په ګډه ښکاري۔ " د ناول روايت پښتو ادب ته ورو ورو راغے وده ئې ونۀ مونده دوه څلورناولونه ترجمه شول دوه څلور وليکلے شول او يو ببسيار نويس ډېر شے ناولونه يو ځائے وړاندې کړل خو رښتيا خبره دا ده چې دا صنف په اولس کښې مقبول نه شو"۔ [16]

ښاغلے رشيد احمد صيب د تقويم صيب دغه خبره چې دوه څلور ترجمه شول۔ دغه لفظونه هم د راحت صبب په کاته کښې ولي او دغې ناول ته هم د يو ترجمه شوي ناول په توګه د شک په نظر ګوري ۔ د تقويم صيب د ببسيار نوبسۍ د اشارې په لړ کښې وائي چې تر دغه وخته د سيد رسول رسا ، شېرزمان طائزي او نور محمد ترکۍ ډېر ناولونه چاپ وو، د ځېنو پوهانو په خيال دغه اشاره سيد رسول رسا ته وه خو د ګل محمد بېتاب صيب د وېنا مطابق هغه ته شېر زمان طائزي صبب وئيلي وو چې ماته اشاره ده ۔ او د نور محمد ترکۍ ذکر نۀ کول په راروانو پاڼو کښې د يو دليل په توګه پکاروي[17]۔

بيامحترم رشيد احمد صيب د " نتيجه عشق" د شکونو په ګړدونو کښې د سر خط لاندې ليکي

" د ګڼو پوهانو دا خيال دے چې " نتيجه عشق" يا خو چرته د بلې ژبې ترجمه ده او يا دا د بلې کومې سيمې قيصه ده چې پښتو شوې ده"[18]

بيا د تقويم صبب په حواله وائي چې په( بي بي نوره ۱۹۶۰) کښې د مولوي نذير احمد د ناولونو د ژباړو صفتونه کوي خو د راحت زاخيلي ذکر نۀ کوي هغه دغه ترجمه ګڼله خو ناول ئې

نۀ ګټو ګڼي ذکر به ئې کړے ؤ داسې د پښتنې ماحول عکاسي نۀ کول او ژباړه د راحت صېب په هند کښې پاتې کېدل ګڼي، هم دغه د تقویم صېب خاموشي د راج ولي شاه خټک صېب د خیال مرسته کوي چې دا ترجمه ده۔ بیا د اعظم صېب د حوالې ذکر کوي چې دا ناول په ۱۳۶۳ه ثور کښې خپور شوے او د ناول په خاتمه کښې اوله حصه درج شوي ځکه نو نېمګړے ئې ګڼي د مصطفيٰ کمال په بابله وائي چې دا ناول په ۱۹۸۲ کښې د زاخیلي د زېږون په سلمه نېټه چاپ شوے ؤ" دښاغلي صدیق روهي په حواله لیکي " ناول ئې ( ناول د ما روخي) نومبري چې په ۱۳۶۳ ه ش د کابل پوهنتون له خوا د ښاغلي لطیف بهاند په کوشش خپور شوے دے" وائي چې صدیق روهي د نتیجه عشق ذکر نۀ دے کړے[19]

زه د تقویم صیب د راحت زاخیلي په حواله یوه حواله د ۱۹۸۹ء حواله رانقل کوؤم کومه چې د هغه اخري رائے ده زما په خیال نور بحث ته به پرې ضرورت نه وي۔

" په پښتو کښې ناولونه ډېر کم دي او چې کوم دي هغه هم د ساده پلاټ روماني ناولونه دي، د پښتو ناول ابتداء راحت زاخیلي مرحوم کړې ده خو د "سنګ بنیاد" تر حده بیا ګاهے ګاهے چا ناول لیکلے دے او ورک شوے دے"[20]

د بېسیار نویس په حواله د وائي د خبرې په حائے د ډاکټر شبر زمان طائزي پخپله د دې حوالې نه پس بائد چې خبره سپینه شي ځکه چې هغه دغه خبره لیکلي ده۔

" دلته د بېسیار نویس ادیب اشاره سید رسول رسا ته ده په دې تجزیه کښې دواړو میاګانو تر مینځ څه ذاتي کینه برېښي دي د پاره دې ته اهمیت نشو ورکولے"۔ [21]

د ښاغلي رشید احمد صیب دغه خبره چې د "نتیجه عشق" ذکر صدیق روهي صیب نۀ دے کړے نو هم په دغه ضمیمه کښې روهي صیب د ماه رخي په کابل کښې د چاپ کېدو ذکر کړے دے او دا خبره سمه ده چې تفصیل ئې نۀ دے وړاندې کړے ولې راحت زاخیلي ئې د پښتو وړومبے ناول نګار منلے دے هم په دغه مخ لیکي۔

" راحت زاخیلي لومړنے لیکوال دے چي په پښتو ژبه ئې لنډي کیسې او ناول لیکلي دي"[22]

د دغه مزکوره شخصیاتو نه علاوه د پښتو ادبیاتو چې تر اسه پورې څومره هم تاریخونه لیکلي شوي دي یا د پښتو ناول په حواله چې څومره هم لیکونه شوي دي نو د ټولو تاریخونو او لیکونو په رڼا کښې د پښتو وروميے طبع زاد ناول د ښاغلي راحت زاخیلي " نتیجه عشق یا" ماه روخي" یاد شوے دے اگر چې د دغې ناول په فني او وجودي نیمگړتیاؤ مختلفو لیکوالو نیوکې کړې دي خو بیا ئې هم د اولیت نه چا انکار نۀ دے کړے .. امیر حمزه خان شینواري په ۱۹۶۱ء کښې د راحت زاخیلي په شعري مجموعه " داغونه" کښې په خپله تبصره کښې لیکي.

" په هغو ورځو کښې ئې داسې افسانې او ناول لیکلے دے چې پښتو ادب د دغو اصنافو نه بیخي خالي ؤ او اوس ایله په خړ پوسو دے"[23]

ایوب صابر په ۱۹۷۴ء کښې په جدید پشتو ادب کښې لیکي چې د په پښتو کښې ناول د سره نۀ ؤ او که ؤ نو هم د داستان په شکل ؤ په دې میدان کښې د ټولو نه اول راحت زاخیلي " نتیجه عشق" ولیکو او خانه ئې پوره کړه خو اکثرو نقادانو دا ناول دے که نه دے زیر بحث راوستو د اولسي ادبي جرگې په وجه لوستې ته مائله شو او د صاحبزاده ادریس "پېغله"ناول هم د دغې دور پیداوار دے[24] عبدالرؤف نوشهروي "نتیجه عشق" د ۱۹۲۰ء نه وړاندې د راحت زاخیلي سره منصوبوي[25]

عبدالکافي ادیب په خورې پاڼې کښې لیکي

" د پښتو ادب تاریخ له مخه په پښتو کښې وړومبے ناول سید راحت زاخیلي " نتیجه عشق" لیکلے ؤ، غالباً دا ناول د شلمې صدۍ په وړومبني شلو کلونو کښې لیکلے شوے ؤ . دا ناول په پښتو ادب کښې بنیادي حېثیت لري، ځکه چې د پښتو ادب په تاریخ کښې د ناول ټاکلو مونږ سره بل څه ثبوت نشته. بهر کېف دا یوه حوصله افزا ابتداء وه"[26]

محترم حبیب الله رفیع لیکي

" د پښتو مبتکر شاعر او لیکوال راحت زاخیلي چې د نوي او زاړه ادب ډېرې کړۍ سره وصل کړې وې د ناول کړۍ ئې هم د پښتو منظومو کیسو له اوږده زنځیر سره کوشېر کړه او په پښتو کښې " ناول د ماه روخي" یا نتیجه عشق" وکېښ. هو : پښتو ادب ته را مېلمه شوے ناول اروانښاد راحت کوربه کړ او بیا نو ناول د پښتو ادب په کورنۍ کښې نوي گامونه واخیستل، وده ئې وکړه او ډېر ناولونه را منځ ته شول چې ښه او معیاري ناولونه هم پکښې موندل کېږي " [27].

ډاکټر حنیف خلیل ئي په خپل کتاب " پښتو ناول" کښې لیکي

" مرحوم راحت زاخیلي د ځینو نورو اصنافو سره سره د ناول ابتداء هم په پښتو کښې وکړه او په کال ۱۹۱۲ء کښې ئې ناول د ماه روخي یا " نتیجه عشق" ولیکلو او چاپ ئې کړو"[28]

عبدالله جان عابد لیکي د پښتو وړومبې طبعزاد ناول د راحت زاخیلي " نتیجه عشق یا ماه رخ دے د یو معاشرتي ناول دے چې د شمس النظیر او ماه روخ د میني محبت قیصه پکښې بیان شوې ده[29]

ډاکتر شېر زمان طائزے په خپل کتاب " ناول هنر او سفر" کښې لیکي

" وړومبې طبعزاد ناول راحت زاخیلي د " ماه رخ" په نوم ولیکلو د ډاکټر خالد خان خټک د وېنا د مخه راحت دا ناول کال ۱۹۱۲ کښې لیکلے ؤ او هم په هغه کال کښې چاپ شوے دے بیا کابل کښې په کال ۱۳۶۳ شمسي هجري (۱۹۸۴ء) کښې چاپ شوے ؤ عبد الرؤف بېنوا " اوسني لیکوال کښې هم دا ناول چاپ ښودلے دے"[30]

پروفېسر ډاکتر عارف نسیم، لیکي

" نتیجه عشق- ماه روخه" دا ناول په کال ۱۹۱۲ء کښې راحت زاخیلي لیکلے ؤ"[31]

همېش خلیل د راحت زاخیلي د انفرادیت د سر خط لاندې راحت زاخیلي صیب ته د ناول نګارۍ سره سره د نورو صنفونو د سر خیلۍ پګړۍ په سروي[32].

قمر زمان قمر طائزے "د راحت زاخیلي صاحب په یاد کښې" نومې نظم کښې په یو شعر کښې داسې وائي

بس یو راحت دے د ناول او افسانې سرخېل
نوري خبرې دي باطل نوري دعوې دي عبث[33]

ډاکټر سهېل انشاء هم راحت زاخیلي د پښتو وړومبے ناول نګار ګڼي[34] ډاکټر فضل دین خټک ئې "د راحت زاخیلي افسانې" نومې مقاله کښې د پښتو وړومبے ناول نګار په نتیجه عشق یاد کړے دے[35] هم دغسې "ماه روخې یا نتیجه عشق" شبر احمد خلیل د پښتو وړومبے ناول نګار یاد کړے دے[36] ډاکټر نصرالله جان وزیر او ډاکټر عثمان توبهوال هم راحت زاخیلي د پښتو

وړومبے طبعزاد ناول نګار مني[37] مصطفيٰ کمال په خیال د پښتو طبع زاد ناول ابتداء د راحت زاخیلي د نیمګړي ناول "ماه رخ" نه شوي ده چې په ۱۹۱۲ء کښې چاپ شوے دے[38]

د لیکوالو دغه لړۍ نوره هم اوږده خو زما په خیال د لوستونکیو له پاره به دغه پوره وي

(۷) په اخره کښې د محترم رشید احمد صیب خیالات د یو لنډیز په شکل کښې وړاندې کوؤم کوم چې هغه د پښتو د وړومبي طبعزاد ناول په اړه وړاندې کړي دي۔ د پښتو وړومبے ناول د نور محمد ترکۍ " بې تربیته زوے" دے چې په کال ۱۹۴۰ء کښې د کابل مجلې د مارچ،اپرېل، او اپرېل او مئ په ګڼو کښې تر دریو برخو چاپ شوے بیا پرې حکومت له بده مرغه پابندي لګولې چې هېڅ منطق نۀ لري ۔ د ترکۍ د اشتراکي نظریاتو پکښې هیڅ قسمه پر چار نشته بلکې اصلاحي دے د دې ناول کردارونه او ماحول خالص پښتني دے په ۲۰۱۴ء کښې صادق ژرک چاپ کړے دے چې اوس ئې بیا هم "د نور محمد ترکۍ داستاني کلیات" کښې په دوېم ځل چاپ دے او د دې ناول په حواله چې د وړاندې نه کومې غلط فهمۍ وې هغه ئې په دلایلو ختمې کړې دي او په اخره کښې ئې خپله نتیجه داسې وړاندې کړې ده۔

" زمونږ د دې ټول بحث نتیجه دا ده چې د پښتو وړومبے طبعزاد ناول د نور محمد ترکي نیمګړے ناول " بې تربیته زوے" دے "[39]

محترم رشید احمد صبب چې په کومو خبرو د راحت زاخیلي صیب ناول وړومبے نۀ ګڼي چې نیمګړے دے نو هم دغه کار د نورمحمد ترکۍ د ناول سره شوے دے چې د پابندۍ نه څه اویا کاله پس په پوره ډول چاپ شوے دے ځکه نو په دغه دلیل خو د صاحبزاده ادریس پېغله ناول پوره خبژي چې په مکمله توګه په ۱۹۵۰ء کښې چاپ شوے دے۔ بحر حال د ډېرو نیمګړتیاؤ او فني کمزوریو باوجود د مزکوره شواهدو په بنیاد د راحت زاخیلي نتیجه عشق یا ماه روخي د پښتو وړومبے طبعزاد ناول ګڼل پکار دي۔

## حوالې

[1] [1] روغ لېونے، سید تکریم الحق کاکا خېل ، بي بي نوره،رحمان نیوز ایجنسي محله جنګي پېښور، کال نۀ لري مخ ۲۷

[2] رشید احمد ، پښتو ناول (سل کاله)، ضیاء سنز پرنټرز پېښور، ۲۰۱۵،مخ ۳۵۱ ـ ۳۵۲۔

[3] هم دغه ۳۵۲۔

[4] هم دغه ۳۵۳

[5] خالد خان ختک د ۱۹۰۱ءنه تر ۱۹۴۷ءپورې د پښتو نثر ارتقاء، مياشتنۍ پښتو ۱۹۹۶ءپښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي مخ ۹ ۔

[6] هم دغه مخونه ۳۵۳۔

[7] هم دغه ۳۵۴۔

[8] هم دغه ،مخ ۳۵۵۔

[9] عابد عبدالله جان،مقله مصطفي کمال پشتو ناول کے جديد رجحانات، پشتو اد کے جديد رجحانات، يونيورسټي پبلشرز پشاور ، ۲۰۰۸ءمخ ۹۸۔

[10] بريالے باجوړے، پوهنوال، د پښتو ادبياتو معاصر تاريخ د ويښتاؤ پړاؤ، کال ۱۳۹۷ ،مخ۲۴۱

[11] عابد ، عبدالله جان، پشتو زبان و ادب کي مختصر تاريخ، يونيورسټي پبلشرز پشاور ۲۰۰۱ءصفحه ۲۷۰

[12] https://en.wikipedia.org/wiki/Habibullah_Khan#Death date 10 may 2020 PTS 1:15 PM.

[13] هم دغه مخونه ،۳۵۵-۳۵۶۔

[14] هم دغه ۳۵۶۔

[15] "ناول د ماه رخي" تهيد سريزه ،تدقيق د پوهنيار لطيف بهاند ، کابل چاپ ۱۳۶۳المريز ثور ، مخ ۱ ۔

[16] هم دغه مخونه ۳۵۶-۳۵۷۔

[17] هم دغه مخ۳۵۸۔

[18] مخ ۳۵۸۔

[19] هم دغه ۳۵۸-۳۵۹۔

[20] رحيم ،شاه رحيم، بي بي مبارکه، افغان اکېډمي مينګوره سوات، ۱۹۹۱ ، مخ ۲۵۔

[21] طائزے،شېرزمان، ډاکټر، ناول هنر او سفر ، کامل پښتو ادبي جرګه پبو سيمه ضلع نوښار پښتونخوا ،پاکستان،۲۰۰۴ءمخ ۳۶۔

[22] روهي محمد صديق،سر محقق، د پښتو ادبياتو تاريخ دوېم توک۔دانش خپرندويه ټولنه پېښور،۲۰۰۵ء، ۲۳۸۔

[23] خليل، شبر احمد ، راحت زاخيلي فکر او فن، باګرام ادبي جرګه پېښور، ۲۰۰۰ءمخ ۲۳۔

[24] ايوب صابر، جديد پشتو ادب، مکتبه شاهين خيبر بازار، ۱۸۷۴،صفحه ۱۹۵۔

[25] عبدالرؤف نوشهروي ،پرودفير، پشتو ادب ايک تعارف بمعه ضميمه جات، اکدمي سائينس اردو پشتو يونيورسټي ټاؤن پشاور، ۱۹۸۶ء ۱۹۸۸ء ،صفحه ۵۱

[26] اديب ،عبدالکافي، خورې پاڼې، درېم ايډشن، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور ښار، ۱۹۹۵ء،مخ ۳۲۔ (وړومبے ايډيشن ۱۹۷۸)

[27] رفيع ،حبيب الله، کتابونه دريابونه، د امام الدين ساپي د موقوفاتو اداره، ۱۰۹۷ءمخ ۴۱۱۔

[28] حنيف خليل ،پښتو ناول تحقيقي او تنقيدي جائزه باګرام پښتو ادبي جرګه پېښور، ۲۰۰۰ءمخ ۴۴۔

[29] عابد ، عبدالله جان، پشتو زبان و ادب کي مختصر تاريخ، يونيورسټي پبلشرز پشاور ۲۰۰۱ءصفحه ۲۷۰۔

[30] طائزے،شېرزمان، ډاکټر، ناول هنر او سفر ، کامل پښتو ادبي جرګه پبو سيمه ضلع نوښار پښتونخوا ،پاکستان،۲۰۰۴ءمخ۴۱۔

[31] عارف نسيم پروفېسر ډاکټر، ادبي تنقيد ، خنې څانګې او اړخونه، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۲۰۰۷ءمخ ۲۲۶۔

[32] خليل، شبر احمد ، راحت زاخيلي فکر او فن، باګرام ادبي جرګه پېښور، ۲۰۰۰ءمخ ۴۲۔

[33] خليل، شبر احمد ، راحت زاخيلي فکر او فن، باګرام ادبي جرګه پېښور، ۲۰۰۰ءمخ ۴۷۔

[34] هم دغه مخ ۶۲۔

[35] هم دغه مخ۔ ۵۶۔

[36] هم دغه مخ، ۹۸۔

[37] سيماب نصيب الله ډاکټر، تکتو ، مقاله ،پښتو ناول په سهيلي پښتونخوا کښې، جولائي –دسمبر ۲۰۱۱ءمخ ۱۰۔

---

[38] عابد عبداللہ جان،مقلہ مصطفيٰ کمال پشتو ناول کے جدید رجحانات، پشتو اد کے جدید رجحانات، یونیورستي پبلشرز پشاور، ۲۰۰۸ء مخ ۹۸

[39] رشید احمد ، پښتو ناول (سل کاله)، ضیاء سنز پرنټرز پېښور، ۲۰۱۵،مخ ۳۶۷.